مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۲/۰۱

غـزل

ماتوی تنده دا وحشیان په وینو
لمبوي ښکلي ماشومان په وینو

واکدار د ځمکې مو آواز نه اوري
آسمان لړلی هر باران په وینو

تیل او اوبه مالومه بیه لري
چا نرخ کښېنښود د افغان په وینو

خوښي زما سره یاري نه کوي
مل مي دی تل د غم داستان په وینو

د وینو څښل هم اوس روا شول دلته
اودس هم کېږي د انسان په وینو

په سپین کاغذ مې توري کرښې ژاړي
بیانوي راته دوران په وینو

دا قتل عام د پسرلي موسم کې
سره شو ګلان او شنه توتیان په وینو

مصطفی پسرلی
30/11/2019

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ